# د حج شوق

**16-June-2022**

هفته‌وراه د سُنُّتو ډکه اِجتِماع کښي کیدونکے

د سُنُّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)



په 16 جون، 2022ء پاکستان کښې هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د حج شوق

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتكاف نِيَّت اوكړو)

# د درودِ پاک فضيلت

د صحابئ رسول حضرت جابر بن عبدالله رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے:د الله پاک آخري نبي رسولِ هاشمي ، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:چې کوم مسلمان ميدانِ عرفات کښې ايسار شي، هلته د قبلې په طرف مخ کړي، بيا دا وظيفه 100 ځله اولولي:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ

بيا سورهٔ اِخْلَاص (يعني قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ) 100ځله اولولي، بيا 100 ځله دا درودِ پاک اولولي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَآلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ وَعَلَيْنَا مَعَهُمْ

(نو هغه ته څه فضيلت ميلاويږي؟) سَروَرِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله پاک د هغه بنده نه خوشحاله شي او فرښتو ته فرمائي: اے زما فرښتو! دې زما بنده چې زما تسبيح بيان کړه، زما تکبير ئې بيان کړو، زما عظمت ئې بيان

کړو، زما ئې حمد او ثنا اوکړه، زما په نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ئې درود شريف اولوستلو، اے فرښتو: د دې بنده بدله څه ده؟ بيا الله پاک پخپله فرمائي: اے فرښتو! ګواه شئ...! بے شکه ما د ده بخښنه اوکړه، د ده په حق کښې ما د ده شفاعت قبول کړو، که چرې دا بنده ميدانِ عرفات کښې د ايسار شوؤ ټولو خلقو شفاعت اوکړي نو زه به د ده شفاعت قبول کړم. [1]

| | |
|---|---|
| تیری اِک اِک ادا پر اے پیارے | سَو درودیں فدا، ہزار سلام |
| وہ سلامت رہا قیامت میں | پڑھ لئے جس نے دِل سے چار سلام [2] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدو نيتونه

حديثِ پاک کښې دي: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ رښتونے نيت اَفْضَل تَرين عَمَل دے۔[3]

اے عاشقانِ رسول! د هر کار نه مخکښې د ښو ښو نيتونو کولو عادت جوړ کړئ ځکه چې ښه نيت بنده جنت ته بوځي. د بيان اوريدو نه اول هم ښه ښه نيتونه اوکړئ! مثلاً نيت اوکړئ چې!۞د عِلْمِ دِين زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ۞په ادب سره به کښينم ۞د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ۞څه چې واورم نورو خلقو ته به ئې د رسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　　صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...شُعب الايمان، باب في المناسک، جلد:3، صفحه:463، حديث:4074۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:171170۔

3...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

# نه مايوسه کيدونکے حاجي

حضرت مالک بن دينار رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د الله پاک ولئ کامل دے، د محبتِ الٰهی نه ډک، د عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مالامال، د ډيرې اوچتې مرتبې شخصيت دے، هغوئي فرمائي: الله پاک ماته 14 کاله مسلسل د حج کولو سعادت اوفرمائيلو، زه به هر کال مکه مکرمه کښې حاضريدم، د کعبې شريفې د طواف کولو سعادتونه به مې حاصلول او هر کال ما هلته يو کس ليدلو، هغه به د خانه کعبې دروازه نيولې وه، چې کله هغه تَلْبِيَه (يعني لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك ) وئيله نو د غيب نه به آواز راتلو: لَا لَبَّيْك (يعني ستا لَبَّيْك وئيل قبول نه دي)، حضرت مالک بن دينار رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په څوارلسم 14 کال ما د هغه کس نه پوښتنه اوکړه: اے درويشه! ته کونړ خو نه ئې؟ آيا ته نه اورې؟ لَا لَبَّيْك آواز را روان دے. هغه کس د ډير عشق نه ډک جواب راکړو، اوئې وئيل: اے شيخ! زه په قسم سره وايم که چرې د 14 کاله په ځائ زما عمر 14 زره کاله وي او په کال کښې د يو ځل په ځائ، هره ورځ 1 زر ځلې ماته لَا لَبَّيْك اووئيلے شي، نو بيا هم ما دا دروازه نه پريښوده، زه به په دې دروازه کښې ولاړ ووم کله به هم د دې دروازے نه سر اوچت نکړم.

کس کے در پر میں جاؤں گا مولا | گر تُو ناراض ہوگیا یارَبّ!

حضرت امام مالک بن دينار رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: اوس زه د دې کس سره خبرو کښې مصروف ووم چې ناګهانه د آسمان نه د کاغذ يوه ټوټه د دې درويش په سينه را پريوته

هغه ماته هغه کاغذ راکړو. ما اولوستلو، په هغې کښې ليکلي وو: اے مالک بن ديناره! ته زما بنده زما نه جدا کوې، ستا دا خيال دے چې ما د ده د 14 کالو حج نه دے قبول کړے؟ داسې نه ده، بلکه په دې موده کښې د راغلو ټولو حاجيانو حجونه هم د ده د بلنې په برکت سره قبول شوي دي۔[1]

| | |
|---|---|
| يَا اللّٰهُ يَا رَحْمٰنُ | يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ |
| بخش دے بخشے ہوؤں کا صدقہ | یا اللہ مری جھولی بھر دے |

اے عاشقانِ رسول! د حج ورځې نزدې دي ۞ خوش بخته خلق هغه دي چاته چې د حج کولو د سعادت زيرے (يعني ښه خبر) ميلاؤ شوے دے ۞ هغوئي به د حج په تياريانو کښې مصروف وي ۞ قافلې به د حرم په لور روانيدو ته تيارې وي ۞ جازونه (Flights) اوچتيدل شروع شوي دي او خوش نصيبه عاشقانِ رسول ډلې ډلې حرمِ پاک ته رسيدلي دي ۞ الله پاک دې مونږ ته هم دا عظيم سعادت نصيب کړي ۞ چې مونږ هم اِحْرام اوتړو ۞ حرمِ پاک ته اورسو ۞ د کعبې شريفې په ښکلې فضا کښې د ساه اخستلو سعادت ميلاؤ شي ۞ د کعبې شريفې د نور نه په ډکو نظارو سترګې يخې کړو ۞ چرته مُلتَزَم(يعني د خانه کعبې هغه حصه کومه چې د کعبې د دروازې او حجرِ اسود په مينځ کښې ده هغه)ښکل کړو ۞ چرته حجرِ اسود ښکل کړو ۞ چرته د ميزابِ رحمت نه لاندې د نفلونو کولو سعادت نصيب شي ۞ مِنىٰ، عرفات، مُزدَلفې ته

1...عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، صفحه:96۔

تلل او د لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ آوازونه اوچتول مو نصيب شي.

| | |
|---|---|
| ياخدا ایسے اَسباب پاؤں | کاش مکے مدینے میں جاؤں |
| مجھ کو ارمان حج کا بڑا ہے | یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے[1] |

اميرِ اہلسنت حضرت مولانا محمد الياس عطارقادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د الله پاک په بارګاه کښې دعا کوي:

| | |
|---|---|
| بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اب آ ئیگا کب یا الٰہی! |
| میں مکّے میں آؤں مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سَبب یا الٰہی [2] |

الله پاک دې مونږ ټولو ته د حج او عمرې کولو، او مدينه مُنَوَّرَه کښې خو خو ځله په ادب سره د حاضرۍ سعادت نصيب کړي، کاش...!مونږ مکې مکرمې ته لاړ شو، مدينے ته لاړ شو بيا راشو، بيا لاړ شو، بيا راشو بيا لاړ شو، کاش...! آخر په مدينه کښې دوه ګزه د زمکې ټوټه نصيب شي. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مجھے مرنا ہے آقا گنبدِ خضرا کے سائے میں | وطن میں مر گیا تو کیا کروں گا یارسولَ اللہ!

## د حج سعادت چاته ميلاويږي ...؟

**الله پاک** په قرآن کريم کښې فرمائي:

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:137۔

2...وسائلِ بخشش، صفحه:107۔

وَاَذِّنْ فِی النَّاسِ بِالْحَجِّ

(پاره:17،سورۂ حج:27)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او خلقو ته د حج عام اعلان اوکړه.

مفسرينِ کرام د دې آيت لاندې فرمائي: کعبه شريفه چې په کوم ځائ اوس ده مخکښې هم دلته وه، چې کله د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام په مبارک دور کښې طوفان راغلو، هغه وخت کعبه شريفه اوچته کړے شوه، بيا د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په دور مبارک کښې الله پاک حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم اوکړو: اے ابراهيمه! بيت الله شريف جوړ کړه! حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مکے ته تشريف راوړو، هغوئي کعبه شريفه جوړه کړه، حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي شهزاده دے، هغوئي د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام مرسته اوکړه، دواړو پلار او ځوئ کعبه شريفه جوړه کړه، چې کله کعبه شريفه جوړه شوه. نو الله پاک حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم اوکړو: اے ابراهيمه! اوس ته د حج اعلان اوکړه! خلق را اوغواړه حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: يا الله پاکه! زما آواز به کوم کوم ځائ ته رسي؟ الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: عَلَيْكَ الْاَذَانُ وَعَلَيَّ الْبَلَاغُ اے ابراهيمه! ستا کار اعلان کول دي، خلقو ته آواز رسول زمونږ کار دے. اوس حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په کوهِ صفا (صفا غر) او د يو بل روايت مطابق جَبَلِ اَبُو قُبَيْس ته تشريف يوړلو، اول هغوئي تَلبِيَه (يعني لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك) اولوستله، روايات کښې دي: حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام اولنے شخصيت دے چا چې د تَلبِيَې لوستلو سعادت حاصل کړو، د تَلبِيَې لوستلو نه پس حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خلقو ته غږ اوکړو:

يَا اَيُّهَا النَّاسُ!اے خلقو! اِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَيْكُمْ حَجَّ الْبَيْتِ الْعَتِيقِ بے شکه الله پاک په تاسو باندې د دې بیتِ عتیق(یعني کعبې شریفې) حج فرض کړے دے. په یو روایت کښې دي: هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام داسې اعلان اوکړو: اِنَّ اللّٰهَ يَدْعُوكُمْ اِلَى حَجِّ الْبَيْتِ الْحَرَامِ اے خلقو! بے شکه الله پاک تاسو د بیت الله د حج په لور رابلي، لِيُثِيبَكُمْ بِهِ الْجَنَّةَ دې د پاره چې د حج په ثواب کښې تاسو ته جنت درکړي وَيُخْرِجَكُمْ مِنَ النَّارِ او تاسو د حج په برکت سره د جهنّم نه آزاد کړي.

روایتونو کښې راځي چې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام په خپل حیاتِ ظاهري کښې چې کله کعبه شریفه جوړه کړه نو هغه وخت هغوئي دا اعلان اوکړو خو د الله کریم قدرت او د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام معجزه ده چې د هغوئي دا آواز تر قیامته پورې راتلونکو خلقو واوریدو او څوک چې خوش نصیبه وو هغوئي په هغې آواز لَبَّيْک اوئیل-[1]

حضرت امام مجاهد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چا چې هغه وخت لَبَّيْک وئیلے وو هغوئي په ژوند کښې د حج سعادت مومي، چا چې یو ځل لَبَّيْک وئیلے وو هغوئي یو ځل حج کوي، چا چې دوه ځله لَبَّيْک وئیلے وو هغوئي دوه ځله حج کوي او چا چې ډیر ځلې لَبَّيْک وئیلے وو هغوئي ډیر ځله د حج سعادت موندلو کښې کامیابیږي[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو اسلامی وروڼړو! معلومه شوه چې نن کوم حاجي د حج سعادت حاصلوي، پیسه لګوي، د سفر سخته برداشت کوي، د طوافِ کعبې سعادت حاصلوي،

---

1...تفسیر کبیر، پاره:17، سورۂ حج، تحت الآیة:27، 219/8ملتقطاً۔

2...تفسیر کبیر، پاره:17، سورۂ حج، تحت الآیة:27، 220/8۔

مِنیٰ کښې، ميدانِ عرفات کښې ايساريږي، مزدلفه کښې قيام کوي، په صفا مروه کښې منډې وهي او سخته برداشت کوي، دا عملي طور د دې خبرے اظهار کوي چې مونږ هم په هغه خوش نصيبو کښې شامل يو، چا چې د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په غږ باندې لَبَّيْك وئيلے وو.

## حج په چا فرض دے...؟

اے عاشقانِ رسول! حج په هر وس لرونکي مسلمان باندې فرض دے، الله پاک فرمائي:

وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ؕ

(سپاره:4،سورۂ آلِ عمران:97)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د الله د پاره په خلقو باندې د هغه د کور حج کول دي څوک چې هغې ته ورتلے شي.

معلومه شوه چې کوم خلق چې کعبې شريفې ته د رسيدو طاقت (وس) لري، په هغوئي باندې حج فرض دے، سرورِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د طاقت لرلو تفسير د زَادْ او رَاحِلَه نه اوکړو، د رَاحِلَه مطلب دے: سورلۍ، د زَادْ مطلب دے: د سفر خرچه. علمائے کرام فرمائي: چا سره چې دومره مال وي چې د کور نه روان شي او مکې مکرمې ته اورسي، هلته د قيام خرچې، د هغې نه د واپسۍ خرچې او څومره ورځې چې په حج باندې لګي د هغه ورځو د کور والو خرچه د هغه سره موجوده وي، لاره هم په امن سره وي نو په هغه باندې حج فرض کيږي[1] او ياد ساتئ! د حج فرض کيدو نه پس زر تر زره

1...خزائن العرفان، پاره:4، سورۂ آلِ عمران، تحت الآية:97، صفحه:126۔

حج کول ضروري دي، يعني په دې کښې د لم ليټ نه کار اخستل چې بل کال به لاړ شم، چې د لوريانو واده اوکړم د هغې نه پس به حج له لاړ شم، اوس کاروباري معاملات انختي دي چې دا صحيح کړم نو بيا به حج له لاړ شم، دا اندازه قطعاً صحيح نه ده.

علماء فرمائي: که چرې په يو کَس باندې حج فرض شو، خو هغه حج لاړ نشي، د لم ليټ نه ئې کار واخستو، وروستو کولو ئې، روان کال نه بل کال له به لاړ شم، د هغې نه پس په بل کال به لاړ شم، لا ډير ژوند پاتې دے، بيا به لاړ شم، داسې ئې کول بيا په هغه باندې غريبي راغله نو بيا هم په هغه باندې حج فرض دے، په داسې حالت کښې په ده باندې لازم دي چې قرض راواخلي او حج له لاړ شي، الله پاک به د هغه د قرض انتظام اوفرمائي. [1]

## د فرض حج نه کولو وعيد (زورنه)

اے عاشقانِ رسول! په چا چې حج فرض شي او د دې باوجود حج نه کوي، د حج د سفر تيارياني نه کوي نو هغه په ډير نقصان کښې دے. د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي المرتضىٰ، شيرِ خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے:د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي ،مکي مدني مُحَمَّد عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:څوک چې د زاد او راحله (يعني د سورلۍ او د سفر د خرچې) مالک وي د کومې په ذريعه چې هغه مکې مکرمې ته اورسي، د هغې باوجود که چرې هغه حج اونکړي نو که غواړي نو يهودي دې مړ شي يا نصرانی. [2]

1...وقار الفتاوی، جلد:2، صفحه:442ملتقطاً۔

2...ترمذی، کتاب الحج، صفحه:223، حديث:812۔

اَللّٰهُ اَکْبَرْ !اے عاشقانِ رسول! غور اوفرمائې! څنګه سخت وعيد دے زمونږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفےٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِیْن (يعني د ټولو جهانونو د پاره رحمت)دے، د خلقو ايمان قبلول ، د هغه ډير خوښ دي، کله چې به کافرانو کلمه نه لوستله، په قرآني آيتونو باندې به ئې ايمان نه راوړو نو هغوئ صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به ډير زيات غمژن کيدلو، رحمتِ عالم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به د کافرانو په کلمه نه لوستلو هم غمژن وو، هغوئ د مسلمان د پاره ارشاد فرمائې: د حج فرض کيدو باوجود که چرې هغه حج نه کوي، نو که هغه غواړي نو يهودی دې مړ شي يا نصراني. حکيم الامت مفتي احمديار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د دې حديثِ پاک وضاحت کوي او فرمائي: مطلب دا دے څوک چې د حج تارِک دے (يعني څوک چې د حج فرض کيدو باوجود حج نه کوي) د هغه په مرګ کښې او د يهودي او نصراني په مرګ کښې څه فرق نشته دے، الله پاک د حج ترک کوونکي نه هم خفه دے، د يهوديانو او نصرانيانو نه هم خفه دے. او! دواړو خفګانونو کښې فرق دے. او که څوک داسې دے چې حج هم نه کوي او د حج د فرضيت نه هم انکار کوي نو هغه بنده به کافر شي او د هغه او د اهلِ کتاب په کفر کښې به څه فرق پاتې نه شي. (1)

شَرَف دے حج کا مجھے میرے کبریا یارب! | روانہ سُوئے مدینہ ہو قافِلہ یارب!
دکھا دے ایک جھلک سبز سبز گنبد کی | بس اُن کے جلووں میں آجائے پھر قضا یارب!
بَوقتِ نَزع سلامت رہے مرا ایماں | مجھے نصیب ہو کلمہ ہے التجا یارب! (2)

1...مرآة المناجيح، جلد:4، صفحه:94۔

2...وسائل بخشش، صفحه:87 ملتقطاً۔

# حج د عشق سفرِ دے

**اے عاشقانِ رسول!** حج کول غټ سعادت دے، په چا چې حج فرض دے هغوئي خو دې حج له خامخا لاړ شي او چا چې فرض حج ادا کړے دے، که چرې الله پاک وس ورکړے دے، مال او دولت ئې ورکړے دے نو هغوئي له پکار دي چې د نفل حج د پاره لاړ شي بلکه که ممکنه وي نو هر کال دې لاړ شي، بیا بیا دې لاړ شي، چا له چې الله پاک وس ورکړے وي، هغه دې د حج د ورځو انتظار نه کوي، د عمرې د پاره دې ځي، د حرمِ پاک په فضاګانو کښې ساه اخستل هم څه کم سعادت نه دے.

یاد ساتئ! د دین بنیاد په محبتِ الٰهي او عشقِ رسول باندې ایښودلے شوے دے اعلیٰ حضرت فرمائي: اَلَاۤ لَا اِیْمَانَ لِمَنْ لَّا مَحَبَّةَ لَه واورئ! د هغوئي هیڅ ایمان نشته د چا په زړه کښې چې د محبتِ حق شمع نه بلیږي، د دین بنیاد په محبتِ اِلٰهي او عشقِ رسول باندې ایښودلے شوے دے او حج سراسر سفرِ عشق دے ۞بنده چې حج د پاره ځي نو بغیر ګنډلے شوې جامې (یعني اِحْرام) اغوندي ۞ د کعبې شریفې نه ګیر چاپیره چکر لګوي ۞ د صفا او مروه په مینځ کښې منډه وهي ۞مِنیٰ ته لاړ شي قرباني کوي ۞میدانِ عرفات کښې ایساریږي ۞مزدلفه کښې قیام کوي ۞د جمرات په مقام باندې شیطان په تیګو ولي، دا هغه کارونه نه دي چې په عقل کښې راشي، صرف او صرف عشق په دې کارونو پوهیږي، ځکه حج د اَوَّل نه تر آخره پورې د عشق او محبت سفر دے، په دې سفر باندې هغوئي ځي، د دې سفر شوق هغوئي زوروي د چا په زړه کښې چې د محبتِ اِلٰهی اور عشقِ رسول شمعې بلیږي بلکه د چا چې د عشق او محبت

دولت نصيب وي، نو هغوئي (د ښپو په ځائے ) په سر تلل هم غنيمت ګڼړي.

## د معذوره حاجي ايمان تازه کوونکې واقعه

حضرت شفيق بلخی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي:زه مکې مکرمې ته حج له روان ووم په لاره کښې مې يو کَس اوليدو، معذوره (شل) وو، په توليدو توليدو د مکې مکرمې په لور روان دے. زه ډير حيران شوم چې دا څومره عجيبه کَس دے، د ګرځيدو نه معذوره دے بيا هم په کوم شوق سره د مکې مکرمې طرفته روان دے.

زه د هغه خوا له لاړم او پوښتنه مې اوکړه: وروره! د کوم ځائ نه راغلے ئې؟ اوئې وئيل: زه د سمرقند نه راغلے يم.( سمرقند د اَزْبُکِسْتَان يوه صوبه ده او د اوسنۍ نقشے مطابق د سمرقند نه د مکې مکرمې پورې فاصله تقريباً4 زره 4سوه17 کلوميټره ده) دومره اوږد مزل او هغه کَس د ګرځيدو نه معذوره په توليدو توليدو روان دے.

حضرت شفيق بلخی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زه ډير حيران شوم او ما د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: وروره! څومره موده اوشوه چې د سمرقند نه را روان شوے ئې؟ اوئې وئيل! 10 کاله اوشو. اوس خو نور هم حيران شوم، حضرت شفيق بلخی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په سوچ کښې پريوتلو او پرله پسې ئې هغه خوش قسمته عاشقِ رسول ته کتل. هغه پوښتنه اوکړه: اے شفيق! څه ګورې؟ اوئې فرمائيل: زه ستا کمزورۍ او اوږد مزل ته ډير حيران يم، هغه خوش قسمته عاشقِ رسول ډير ښکلے جواب راکړو، اوئې وئيل: اے شفيق بلخی! اوږد مزل به زما شوق رالنډ کړي او څو چې زما د کمزورۍ خبره ده نو زما د کمزورۍ ملاتړ زما

مالک او مولا دے. (1)

| | |
|---|---|
| فاصلوں کو تکلُّف ہے ہم سے اگر | ہم بھی بے بس نہیں بے سہارا نہیں |
| خود اُنہی کو پکاریں گے ہم دور سے | راستے میں اگر پاؤں تھک جائیں گے |

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رسول! تاسو اوکتل د معذوره حاجي جذبه څومره زبردسته ده، د تلو نه د معذورتيا باوجود په توليدو توليدو د کعبې شريفې د زيارت په شوق کښې روان دے، د 10 کالو نه د مکې مکرمې په طرف روان وو، د هغوئي جذبې او همت ته په لکونو سلامونه، سلام دې وي د هغوئي جذبې او شوق ته. په دې واقعه کښې زمونږ د پاره هم ډير غټ عبرت دے. هغه نادانه مسلمان کوم چې د صحت منده او روغ صحت لرلو باوجود، مال او دولت لرلو باوجود، د وَس لرلو باوجود د سفرِ حج سعادت نه حاصلوي. معذوره حاجي په توليدو توليدو روان وو، د هغوئي د کور نه د وتلو 10 کاله شوي وو، اوس هم په سفر کښې وو، او نادان مسلمان صرف د يو څو ګنټو سفر کولو د پاره هم همت نه کوي، آه...! افسوس! کاش! مونږ ته شوقِ حج نصيب شي، کاش...! زمونږ په زړه کښې هم د محبتِ الٰهی او عشقِ رسول شمع داسې بله شي چې مونږ هر څه پريږدو او د الله او رسول په حکم باندې عمل اوکړو که حج فرض وي نو حج له لاړ شو، که چرې فرض نه وي او الله پاک د نفل حج وَس راکړے وي نو کاش! بيا بيا لاړ شو.

| | |
|---|---|
| شَرَف دے حج کا مجھے میرے کبریا یارب! | روانہ سُوئے مدینہ ہو قافِلہ یارب! |
| دکھا دے ایک جھلک سبز سبز گنبد کی | بس اُن کے جلووں میں آجائے پھر قضا یارب! |
| بَوقتِ نَزع سلامت رہے مِرا ایماں | مجھے نصیب ہو کلمہ ہے التجا یارب! (1) |

---

1...عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، صفحہ:124۔

الله پاک دې د هغه معذوره حاجي صاحب په برکت مونږ ته هم شوقِ حج نصيب کړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

راځئ! د شوقِ حج زياتولو د پاره د حج فضائِل اورو:

## د حج کولو په فضائلو باندې 3 مبارک حديثونه

(1): د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کوم بنده چې د کعبې شريفې حج اوکړي، دغه وخت کښې نه فُحْش خبرې اوکړي، نه خو د ګناه کار اوکړي نو رَجَعَ كَمَا وَلَدَتْهُ اُمُّهٗ هغه به داسې واپس شي لکه څنګه چې د هغې مور هغه زيږولے دے.[2] (2): د بخاري شريف په حديث پاک کښې دي: اَلْعُمْرَةُ اِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِّمَا بَيْنَهُمَا يوه عمره د دويمې عمرې پورې په مينځ کښې د (شوؤ) ګناهونو کفاره ده، وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهٗ جَزَاءٌ اِلَّا الْجَنَّة او د قبول شوي حج جزا (بدله) صرف او صرف جنّت ده.[3] (3): د مسلم شريف په حديثِ پاک کښې دي، نبي رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهٗ بے شکه حج تير شوي ګناهونه معاف کوي.[4]

## حقوق العباد ادا کول د حج نه پس هم ضروري دي

اے عاشقانِ رسول! معلومه شوه چې ايمان او نيک عملونه د ګناهونو د معافئ ذريعه ده،

1...وسائل بخشش، صفحه: 87 ملتقطاً۔

2...بخاری، کتاب الحج، باب فضل الحج المبرور، صفحه: 423، حديث: 1521۔

3...بخاری، کتاب العمرة، صفحه: 475، حديث: 1773۔

4...مسلم، کتاب الايمان، باب کون الاسلام يهدم، صفحه: 63، حديث: 121۔

علمائے کرام فرمائي: د عمرې کولو سره واړه ګناهونه معاف کيږي او قبول شوي حج کښې د غټو ګناهونو د معافئ هم پوخ اُميد دے.

ياد ساتئ چې د حج په برکت ګناه نه ختميږي، د حقوق العباد (د خلقو د حقونو) نه خلاصے نه کيږي، مثلاً چا قرض اخستے وو، په قرض ادا کولو کښې هغه ناوخته کړو، نو د دې ناوخته کيدو ګناه به د حج کولو سره معاف شي، خو کوم رقم ئې چې اخستے دے هغه به بيرته واپس کول وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو حاجي صاحب به د 400 کسانو شفاعت کوي

حضرت ابو موسیٰ اشعري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روايت کوي: د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: حاجي صاحب به د خپلې کورنئ نه د 400 کسانو شفاعت کوي او حاجي صاحب د ګناهونو نه داسې اوځي لکه څنګه چې د هغه مور هغه زيږولے وو[1]

## د حاجي صاحب د پاره د بخښنې زيرے

د حضرت ابو ذَر غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے رسولِ رحمت ،شفيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو:د الله پاک نبي حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: يا الله پاکه! څوک چې ستا د کور يعني کعبې شريفې زيارت له راشي، هغوئي د

1...مسند بزار، جلد:8، صفحه:170، حديث:3196۔

پاره څه اجر دے؟ الله پاک اوفرمائيل: اے داؤده! بے شکه څوک چې زما د کعبې حج اوکړي، زما په ذِمهٔ کرم باندې دي چې زه هغه په دنيا کښې معاف کړم او (د قيامت په ورځ) کله چې هغه ما سره ميلاو شي نو زه د هغه بخښنه اوکړم. (1)

د الله رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې د عرفې ورځ وي، الله پاک د فرښتو مخې ته په فخر فرمائي، ارشاد کيږي: اے فرښتو! زما بندګانو ته اوګورئ! هغوئي په ګنده حال، خورو ورو ويښتو سره د لرې لرې نه راغلي دي، زه تاسو ګواه جوړووم بے شکه ما هغوئي ته بخښنه اوکړه. فرښتے عرض کوي: اے الله پاکه! په دوئي کښې ګنهګاران هم دي نو الله پاک فرمائي: بے شکه ما هغوئي ته هم بخښنه اوکړه. (2)

| | |
|---|---|
| يَا اَللهُ يَا رَحْمٰنُ | يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ |
| بخش دے بخشے ہوؤں کا صدقہ | يَا اَللہ مِری جھولی بھر دے |

## حج د کمزورو جهاد دے

د شهيدِ کربلا حضرت سيدنا امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يو ځل يو ګس د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عَرْض ئې اوکړو: يَا رسولَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زه ډير کمزورے يم، جهاد ته نشم تلے، د الله پاک رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:هَلُمَّ اِلٰى جِهَادٍ لَا شَوْكَةَ فِيهِ الْحَجّ ته د هغه جهاد په طرف حرکت اوکړه! چې په هغې کښې د ازغي خطره نشته يعني حج

1...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:297، حديث:6037۔

2...کنز العمال، کتاب الحج، جُز:5، جلد:3، صفحه:29، حديث:12098۔

ادا کړه.[1]

## د حجِ مَبْرُور فضيلت

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: حَجَّةٌ مَّبْرُوْرَةٌ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا حجِ مَبْرُور يعني قبول شوے حج دنيا او څه چې په دنيا کښې دي د هغه ټولو نه بهتر دے وَحَجَّةٌ مَّبْرُوْرَةٌ لَيْسَ لَهَا جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّة او د مقبول (قبول شوي) حج بدله صرف او صرف جنّت ده.[2]

## حجِ مَبْرُور څه ته وائي؟

**حجِ مَبْرُور** نه مراد هغه حج دے: کوم کښې چې د ګناه نه ځان بچ کړے شي، يا هغه حج په کوم کښې چې د ريا او خلقو ته د ښودنې نه ډډه اوکړے شي، يا هغه حج د کوم نه پس چې حاجي صاحب د وفات کيدو پورې د ګناهونو نه ځان بچ اوساتي، حج بربادوونکے څه عمل اونکړي.[3]

## د حج سفر کښې د وفات کيدونکي فضيلت

خوږ آقا، مدينې والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د حج د پاره اووتلو او وفات شو نو د قِيامت ورځ پورې به د هغه د پاره د حج کولو ثواب ليکلے شي او څوک چې عمرې د پاره اووتلو او وفات شو هغه د پاره به د قيامت ورځ پورې د

1....معجم اوسط، جلد:3، صفحه:190، حديث:4287۔

2...احياء علوم الدين، کتاب اسرار الحج، جلد:1، صفحه:317۔

3...مرآة المناجيح، جلد:5، صفحه:727۔

عمرې کولو ثواب ليکلے شي. (1)

## هره ورځ 120 رحمتونه نازلیږي

حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ روايت کوي: د الله رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:الله پاک په حاجيانو باندې هره ورځ 120 رحمتونه نازلوي، په هغې کښې 60 رحمتونه د طواف کوونکو د پاره دي، 40 رحمتونه د کعبې شريفې سره نزدې د لمونځ کوونکو د پاره دي او 20 رحمتونه د کعبې زيارت کوونکو د پاره دي. (2)

## شيطان خوار او ذليله کيږي!

د حضرت طلحٰه بن عبيد الله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے:رسولِ اکرم ، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: شيطان د ټولو نه زيات خوار، د ټولو نه زيات ذليله او د ټولو نه زيات غصه کښې صرف د عرفې په ورځ ليدلے کيږي او دا په دې وجه چې د عرفې په ورځ ميدانِ عَرَفات کښې په وقوف کوونکو باندې د الله پاک سم رحمتونه راوريږي او الله پاک د هغوئي غټ غټ ګناهونه بخښي. (3)

## حاجي صاحب نه د بخښنې دعاګانې غواړئ!

يو حديثِ پاک کښې دي نبئ اکرم ، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله د حاجيانو د پاره دعا اوکړه: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْحَاجِّ اے الله د حاجيانو بخښنه اوفرمايا، وَلِمَنِ اسْتَغْفَرَ لَهُ الْحَاجُّ او د

---

1...مسند ابی یعلیٰ، مسند ابو ہریرۃ، جلد:5، صفحه:44، حديث:6350۔

2...شُعب الایمان، باب فی المناسک ، جلد:3، صفحه:455، حديث:4051۔

3...کنز العمال، کتاب الحج، جُز:5، جلد:3، صفحه:29، حديث:12101۔

هغه چا هم بخښنه اوفرمايا د چا د پاره چې حاجي د بخښنې دعا کوي. (1)

يو روايت کښې دي: **اَلْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ، وَفْدُ اللّٰهِ اِنْ دَعَوْهُ اَجَابَهُمْ**، حاجي او عمره کوونکي د الله پاک ډله ده، که چرې دوئي د رَبّ نه دُعا اوغواړي الله پاک ئې قبلوي **وَاِنِ اسْتَغْفِرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ** او که چرې دوئي د الله پاک نه بخښنه اوغواړي نو الله پاک دوئي ته بخښنه کوي (2)

د حضرت عبدالله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے: رسولِ اکرم ، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: کله چې تاسو د حاجي صاحب سره ميلاو شئ نو هغه ته سلام کوئ او د هغه سره لاس ميلاؤ کړئ او کور ته د رسيدو نه مخکښې مخکښې د هغه نه د مغفرت دعا اوغواړئ، بے شکه هغه بخښلے شوے دے. (3)

## سوالونه ئې هم پخپله اووئيل او جوابونه ئې هم ورکړل

د ابن حَبّان په روايت کښې دي، يو ځل يو انصاري صحابي د خوږ آقا، مکي مدني مصطفے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې د څوو پوښتنو کولو د پاره حاضر شو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: که چرې ته غواړې نو ته زما نه پوښتنې اوکړه! او که چرې ته غواړې نو چې زه تاته ستا پوښتنې هم اووايم او د هغې جوابونه هم۔ صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عَرْض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم تاسو ارشاد اوفرمائيئ چې زه څه پوښتنو له راغلے يم؟ آقا کريم، رؤوفٌ رَّحيم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...مستدرک، کتاب المناسک، جلد:2، صفحه:84، حديث:1654۔

2...ابن ماجه، کتاب المناسک، صفحه:469، حديث:2892۔

3...جامع صغير، صفحه:58، حديث:847۔

اوفرمائيل: ته دې پوښتنې له راغلے ئې چې کله حاجي د کور نه اوځي نو هغه د پاره څه ثواب دے؟ چې کله هغه میدانِ عرفات کښې ایساریږي نو هغه د پاره څه ثواب دے؟ چې کله هغه رمیِ جمرات کوي (یعني شیطانان په تیګو ولي) نو هغه د پاره څه ثواب دے؟ کله چې حاجي سر خروي نو هغه د پاره څه ثواب دے؟ کله چې حاجي آخري طواف پوره کوي نو هغه د پاره څه ثواب دے؟ انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ عرض اوکړو: اے د الله پاک نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په هغه ذات مې دې قسم وي! چا چې تاسو ربنتونے نبي رالیږلے ئیئ، بے شکه تاسو ټولې پوښتنې صحیح ارشاد اوفرمائیلې، اوس د دې جوابونه هم اوفرمائیئ، رسولِ اکرم ، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کله چې حاجي د خپل کور نه اوځي نو د هغه د سورلۍ د هر قدم په بدله کښې هغه د پاره یوه نیکي لیکلے کیږي او د هغه یوه ګناه معاف کیږي،کله چې هغه میدانِ عرفات کښې ایساریږي نو الله پاک د خپل شان لائق په آسمانِ دنیا باندې تجلي اوفرمائي او بیا فرمائي: اے فرښتو! ګواه شئ! ما د دوئي ګناهونه معاف کړل که هغه د باران د څاڅکو او د شګو د زرو برابر ولې نه وي-

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نور اوفرمائیل: کله چې حاجي رمیِ جمرات کوي (یعني شیطانان په تیګو ولي) نو د قیامت د ورځې پورې د دې ثواب څوک نشي معلومولے، کله چې هغه خپل ویښته خَروي نو د هغه د سر نه د غورځیدونکي هر ویښته په بدله کښې به د قیامت په ورځ نور وي، او کله چې حاجي د کعبې شریفې آخري طواف کوي نو د ګناهونو نه داسې پاکیږي لکه څنګه چې هغه په کومه ورځ

خپلې مور زيږولے وو-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو اسلامی وروڼو! غور اوکړئ! د حج کولو څنګه غوره فضائل دي ۞حاجي چې د کور نه اوځي نو د هغه په هر قدم يوه نيکي ليکلے کيږي ۞يوه ګناه ئې ختمولے شي ۞ميدانِ عرفات کښې د هغه ټول ګناهونه معاف کيږي ۞حاجي صاحب چې کله شيطان په تيګو اوولي نو هغه ته بے شماره اجرونه ورکولے کيږي ۞حاجي صاحب چې ويښته خروي نو د هر يو ويښته په بدله کښې به ورته د قيامت په ورځ يو نور ورکولے شي ۞حاجی صاحب چې کله د بيت الله آخري طواف کوي نو هغه د ګناهونو نه بالکل پاک شي ۞د قبول شوي حج بدله جنت ده ۞ حج تير شوي ګناهونه ختموي ۞حاجي صاحب به د خپلې کورنۍ د 400 کسانو شفاعت کوي ۞حاجي صاحب چې د چا د پاره د بخښنې دعا اوکړي هغه به هم بخښلے کيږي ۞حاجي صاحب د الله پاک ميلمه دے ۞د حاجي صاحب دعا قبلولے شي ۞د حاجي صاحب غريبي ختمولے کيږي ۞ کوم حاجي صاحب چې د حج سفر کولو په وخت وفات شي د قيامت په ورځ به د خپل قبر نه په اوچت آواز سره د تَلبِيَې (يعني لَبَّيْك اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك) لوستلو سره پورته کيږي ۞حاجي صاحب ته په سفر کښې د يوې روپۍ لګولو په بدله کښې د 10 لاکهه روپو لګولو ثواب ملاويږي ۞حاجي صاحب چې د کعبې طواف کوي نو په هغه باندې 60 رحمتونه راوريږي ۞حاجي صاحب چې مسجدِ حرام (يعني چرته چې خانه کعبه ده، په هغه جُمات) کښې لمونځ ادا کوي نو د هغه 40 رحمتونه نصيب کيږي ۞حاجي صاحب چې مسجدِ حرام ته اورسي او صرف

---

1...صحيح ابن حبان، كتاب كتاب الصلاة، صفحه:586، حديث:1887-

د کعبې شريفې زيارت اوکړي نو په هغه باندې 20 رحمتونه نازليږي۔

سُبْحٰنَ الله! دا څومره عظيم فضائل دي، الله پاک دې مونږ ته هم د حج شوق رانصيب کړي، کاش...! مونږ هم د حج سعادت حاصل کړو، ياد ساتئ! د حج کولو د پاره د پيسو نه بلکه د رښتوني شوق ( ارمان) ضرورت دے، الله پاک رښتوني طلب او رښتوني شوق (ارمان) ته ګوري، که چرې ارمان رښتونے وي، طلب رښتونے وي، شوق رښتونے وي نو د الله کريم رحمتونه ضرور ملاويږي، نظرِ کرم ضرور کيږي او بنده ته د حج سعادت ملاويږي.

## د هندوستان نه ناڅاپه کعبې ته مخامخ

د هندوستان واقعه ده: يو ځل د حج ورځې وې، 9 ذي الحج (يعني د عرفات ورځ وه)، يو سپين ګيري (مشر ګس) چا چې به واښه (ګيا) ريبله، هغه په خپل پټې کښې کار کولو، ناڅاپه ئې په زړه کښې د حج شوق راپيدا شو، په فکر کښې ئې دا خبره راغله چې نن خو د عرفې ورځ ده، حاجيان به د عرفات په ميدان کښې راجمع شوي وي، او د رَبِّ کريم په بارګاه کښې به دعاګانې، ارزوګانې کوي، دې فکر کولو سره ئې د دردمند زړه نه يو سوړ اسويلے اوتلو او ډير په ارمان هغه سپين ګيري اوئيل: کاش...! ما هم حج کړے وے---!!

خوا کښې ئې حضرت شيخ جهانګير سَمناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ناست وو، هغوئي د سپين ګيري د ارمان ډک آواز واوريدو نو هغه ئې د ځان خوا ته راوغوښتو، سپين ګيرے ګس د شيخ جهانګير سمناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو، حضرت شيخ سمناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خُله نه بلکه د لاس په اشاره اوفرمائيل: لاړ شه! بس دومره اشاره کول وو،

سپين ګيرے ګس څه ګوري! لږ ساعت مخکښې چې په هندوستان کښې وو، د اشارې سره په مسجدِ حرم شريف کښې خانه کعبې شريفې ته مخامخ ناست دے۔

اَللّٰهُ اَکْبَرُ! په سپين ګيري خو سم اختر شو، د حج شوق ئې وو، حج ئې ارمان وو، هغه د کعبې طواف اوکړو، ميدانِ عرفات ته اورسيدو. د حج نور ارکان ئې مکمل کړل، کله چې د حج ورځې پوره شوې، نو سپين ګيري سوچ اوکړو چې ما سره خو د بيرته تلو خرچه نشته، زه خو د الله پاک د ولي د کراماتو په ذريعه دلته رارسيدلے ووم، څنګه چې ئې دا خيال راغلو نو سپين ګيري حضرت شيخ جهانګير سمنانی رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مخامخ اوليدو، اوس حضرت شيخ جهانګير سمنانی رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيا په اشارې سره اوفرمائيل: لاړ شه! اوس څه ګوري چې سپين ګيرے څوک چې په مسجدِ حرم شريف کښې وو اوس په هندوستان کښې په خپل کور کښې موجود دے۔ (1)

کیوں کر نہ میرے کام بنیں غیب سے حَسنؔ | بندہ بھی ہوں تو کیسے بڑے کار ساز کا(2)

اے عاشقانِ رسول! کيدے شي د چا په زړه کښې وَسْوَسه راشي چې دا څنګه کيدے شي؟ په هندوستان کښې ولاړ ګس فوراً په زرګونو کلوميټره لرې مکې مکرمې ته اورسي، د دې وسوسې لرې کولو د پاره عرض دے چې دا د الله پاک د ولي کرامات دي او الله پاک خپل غوره بنده ګانو، اوليائے کرامو ته کرامتونه ورکوي او دا چې کوم کرامت دے د هندوستان نه فوراً مکې مکرمې ته رسيدل، دې کرامت ته طَئُّ الْاَرْض وئيلے شي، (يعني زمکه راغونډول، مزلونه رالنډول) او د طَئُّ الْاَرْض ثبوت خو د قرآن

1...عاشقان رسول کی 130 حکایات، صفحه:79۔

2...ذوق نعت، صفحه:14۔

نه هم ثابت دے. آؤ جي! د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام يو اُمتي حضرت آصف بن برخيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي هم د الله پاک کامل ولي وو۔ د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام دربار لګېدلے وو، حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: داسې څوک شته چې د ملکه بلقيس تخت ما له راوړي؟ حضرت آصف بن برخيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض اوکړو:

اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ؕ (پاره:19، سورۂ نمل:40)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: زه به هغه ستاسو په دربار کښې حاضر کړم، په يو درنګ کښې.

يعني اے د الله نبي عَلَيْهِ السَّلَام زه به د سترګو د رَپ نه مخکښې د ملکه بلقيس تخت ستاسو په خدمت کښې حاضر کړم.

سُبْحٰنَ الله! بيا هم دغه شان اوشول، د ملکه بلقيس تخت مُلکِ يمن کښې، په 7 کوټو کښې بند وو، تالې ورته لګېدلې وې، حضرت آصف بن برخيا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک په ورکړے شوي طاقت د کرامت په طور د سترګو په رَپ کښې د ملکه بلقيس تخت د مُلکِ يمن نه د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت کښې حاضر کړو. معلومه شوه، د الله پاک د وليانو د پاره زمکه راغونډولے شي، مزلونه کمولے شي، څکه په دې معامله کښې د وسوسو نه بچ کيدل پکار دي. الله پاک دې مونږ ټولو ته د منلو والا عقل رانصيب کړي. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عقل کو تنقید سے فرصت نہیں | عشق پر اعمال کی بنیاد رکھ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد


www.dawateislami.net

# د حج شوق لرونکي کار اوشو

امام ابن جوزي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: يو عاشقِ رسول وو، د غه حج ته د تللو ډير شوق وو، د 3 کالو پورې مسلسل هغه حج د پاره دعاګانې کولې، په سلګو سلګو به ئې د رَبّ په بارګاه کښې عرض کولو:

| | |
|---|---|
| بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے | بُلاوا اب آ بیگا کب یا الٰہی! |
| میں مکّے میں آؤں مدینے میں آؤں | بنا کوئی ایسا سَبب یا الٰہی! (1) |

مسلسل ئې 3 کاله دعاګانې کولې خو د هغه د زړه ارمان پوره نه شو، خلورم کال د حج ورځې وې، په زړه کښې ئې حرمینو شریفینو ته د رسیدو او د کعبې شریفې زیارت شوق زیات شو، هغه په ژړا ژړا د الله کریم په بارګاه کښې دعاګانې اوکړې، اوس په دې ځل په هغه باندې کرماوشولو، دغه شان یوه شپه چې کله دا اوده شو نو د هغه اوده بخت رابیدار شو، چې سترګې ئې ورغلې نو د زړه سترګې يې برسیره شوې، د مُرادونو پوره کوونکي آقا، د یو عاشقِ رسول د زړه ارمان پوره کولو د پاره په خوب کښې تشریف راوړو.

| | |
|---|---|
| اُمّت کے حال سے وہ آگاہ ہر گھڑی ہیں | خوابوں میں آرہے ہیں، بِگڑی بنا رہے ہیں |

رسولِ رحمت، شفیع اُمّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل عاشق ته اوفرمائيل: ته روان کال حج له لاړ شه.

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:107۔

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! د رسولِ اکرم ،نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې مبارکې نه د حج زيري اوريدو سره هغه عاشقِ رسول د خوب نه رابيدار شو، بارګاهِ نبوت نه د حج اجازت ميلاؤ شوے وو، د هغه زړه د خوشحالئ نه په ټوپونو وو، د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خواږه خواږه آوازونه د هغه په غوږونو کښې تاويدل، هغه ډير خوشحاله وو، خو ناڅاپه ورياد شو چې د حج اجازت خو ميلاؤ شو خو ما سره خو دومره اسباب نشته چې حج ته لاړ شم، چې څنګه ئې په زړه کښې دا خيال راغلے، ټوله خوشحالي ئې په غم کښې بدله شوه.

بله شپه شوه، بيا رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړو، بيا ئې ارشاد اوفرمائيلو: ته روان کال حج له لاړ شه.

هغه عاشقِ رسول د خپلې بې وسئ ذکر اونکړے شو، دريمه شپه بيا کرم اوشو، بيا د الله رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: ته روان کال حج له لاړ شه.دا ځل ئې هم خپله پريشاني بيان نکړے شوه، آخر په څلورمه شپه بيا کرم اوشو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړو نو هغه عرض اوکړو چې يَا رسولَ الله، يَا حَبِيْبَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما سره خو د لارې خرچه هم نشته زه څنګه حج له تلے شم؟

پاس مال و زر نہیں اُڑنے کو بھی پَر نہیں | کر دو کوئی انتظام تم پہ کروڑوں سلام

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ولې نه؟ تا سره د لارې خرچه شته، ته د خپل کور فلانکے ځائے اوکنه، هلته به ستا د نيکه زِرَه موجود وي، دومره ئې

اوفرمائيل او د ټولو نبيانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واپس تشريف يوړلو. سحر چې کله عاشقِ رسول سترګې اوغړولې، ډير خوشحاله وو، د سحر لمونځ نه پس ئې د آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له خوا د ښودلے شوي ځائے په کنستو شروع اوکړه، واقعي هلته يوه قيمتي زِرَه موجوده وه، هغه، هغه زِرَه خرڅه کړه او حج له روان شو.[1]

| | |
|---|---|
| جسے چاہا دَر پہ بُلا لیا | جسے چاہا اپنا بنا لیا |
| یہ بڑے کرم کے ہیں فیصلے | یہ بڑے نصیب کی بات ہے |

اے عاشقانِ رسول! معلومه شوه! حج د پاره د مال او اسبابو نه، د سوچ او شوق ضروت دے، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ خپل زړه کښې د حج شوق زيات کړو، د حج فضائل اولولئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! زړه کښې به مو د حج شوق پيدا شي، کاش! مونږ هم خپل دا عادت جوړ کړو چې د شپې څه وخت يواځې کينو، د کعبې شريفې سوچ په زړه کښې راولو، کله د منیٰ شريف خيال راولو ، په خيال خيال کښې کله ميدانِ عرفات ته اورسو، کله د لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْك نعرې اووهو ، د صفا مروه سعي اوکړو. بيا خپله محرومي په خيال کښې راولو د الله کريم په بارګاه کښې په سلګو سلګو کښې دعاګانې اوکړو: يا الله! ماته د حج سعادت نصيب کړې، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د حج شوق به پيدا شي، د سترګونه به اوښکې بهيږي، نو د الله پاک د رَحْمت نه غټ اُمِّيد دے چې کرم به کيږي، په زړه کښې به د حج شوق هم زياتيږي او که الله پاک اوغوښتله نو د حج رابلل به مو هم نصيب شي.

---

1...عيون الحكايات، جلد:2، صفحه:223۔

د شيخِ طريقت، اميرِ اَهلسنّت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ ډير ښکلي 3 کتابونه دي: **عاشقانِ رسول کی 130 حکایات ، رَفِیۡقُ الۡحَرَمَیۡن اور رَفِیۡقُ الۡمُعۡتَمِرِیۡن** دا کتابونه اولولئ، زړه کښې د حج شوق زياتولو ډيره زبردسته نسخه ده. خپل مور او پلار او د مړو د ايصالِ ثواب د پاره او خپل قبر او آخرت ښه کولو د پاره حج او عمرې له تلونکو ته ډالئ ورکړئ، حاجيان صاحبان او عمره کوونکي به دا کتابونه لولي،چې په ښه طريقه کښې حج او عمره اوکړي نو **اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم!** مونږ ته به هم د هغې برکتونه ميلاؤ شي، څه پته چې که چرې د دې نيک عمل په برکت مونږ ته هم د مديني منورې او مکې مکرمې بلنه ميلاؤ شي۔

جان و دِل ہوش و خرد سب تو مدینے پہنچے | تم نہیں چلتے رضا سارا تو سامان گیا

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار:مدني قافله

**اے عاشقانِ رسول!** د حج شوق زياتولو د پاره صحبت هم ډير اثر لري، دې د پاره زړه کښې د نيکو خواهش زياتولو، د ګناهونو نه نفرت کولو، د د حج شوق او شوقِ مديني زياتولو، د مکّې مديني د محبت نه د زړه منور کولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره تړون اوساتئ، د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې پوره برخه واخلئ **اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم!** د دين او دنيا بے شماره برکتونه به نصيب شي. د ذيلي حلقې 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مدني قافله** هم ده.

# د مدينې د سفر سعادت ميلاؤ شو!

د شيخوپوره ( پنجاب ، پاکستان) يو اسلامي ورور د ليک خلاصه ده: الحمد لله ! ماته د عُمرې شريفې کولو شَرَف ميلاؤ شو، هلته د قُصُور( پنجاب ، پاکستان) يو قاري صاحِب سره ملاقات اوشو، هغه اووئيل ما د دعوتِ اسلامي عاشِقانِ رسول سره د درې ورځو مَدَني قافِله کښې د سفر سعادت حاصِل کړو او هلته مې ډيره په ژړا ژړا د مدينې منوّرې حاضِرئ د پاره دعا اوغوښتله.

د دُعا د قبليدو آثار څه داسې راښکاره شول چې کله زه د مَدَني قافِلې نه واپس راغلم او د مخکښې پشان ماشومانو ته د قرآنِ پاک ښودلو د پاره د چا کور ته لاړم. نو د کور صاحِب ډير په مهربانئ سره ميلاؤ شو او اوئې وئيل:قاري صاحِب ! مَاشَاءَالله! ته زمونږ ماشومانو ته د قرآنِ پاک تعليم ورکوې، که چرې ستاسو څه ارمان وي نو اووائيئ، اول خو ما د اخوا ديخوا نه کار واخستو خو د هغوئي په بيا بيا وئيلو باندې ما اووئيل چې د مدينې ليدل مې ارمان دے. هغوئي ما له سمدستي خرچه راکړه او دغه شان اَلْحَمْدُلِلّٰه! مَدَني قافِله کښې د دُعا کولو په بَرَکت سره زما پشان گنهگار او غريب سړي ته د مدينې منوّرې د حاضرئ شَرَف نصيب شو۔

| | |
|---|---|
| مانگو آ کر دُعا پاؤ گے مُدّعا | در کرم کے کھلیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم چاہیئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د مياشتنۍ فيضانِ مدينه ايپلي کيشن پېژندنه

اے عاشقانِ رسول ! د دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ (څانګې) له طرفه مياشتنے فيضانِ مدينه ايپلي کيشن راوړے شوے دے، په دې ايپلي کيشن کښې دا بهترين آپشنز موجود دي:

۞ د ټولو مياشتنو فيضانِ مدينه اے پي ډي ايف، د ټولو مياشتنو مضمونونه (آرټيکلز) د ليکلو په شکل کښې موجود دي، چې هغه د نقل کولو سره نورو ته ليږلے هم شئ۔

۞ سرچ آپشن کوم کښې چې ټولو مياشتنوکښې سرچ کولو سره ډير په آسانه يو څيز کتلے هم شئ۔

۞ د ټولو مضامينو د موضوعاتو په لحاظ سره ترتيب کړے شوي دي، په خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته ئې هم ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو اسلامي ورونړو! بيان د ختميدو په لور بوځم، د سُنّت فضيلت او يو څو د ژوند آداب بيانولو سَعَادت حاصِلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه ما سره محبت اوکړو او چا چې ما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې ما

سره وي۔[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## په هديره کښې د حاضريدو سنت او آداب

**2 فرامينِ مصطفےٰ** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : **(1)**: د قبرونو زيارت (قبرونو له ځئ) کوئ ځکه چې دا په دُنيا کښې د بے رغبتئ سبب او آخرت رايادوي[2] **(2)**: څوک چې د خپل مور پلار دواړو يا د يو د قَبْر د هرې جمعې په ورځ زيارت اوکړي، د هغه به مغفرت اوشي او نيک کار کوونکے به اوليکلے شي[3]

**اے عاشقانِ رسول !** ❁قبورِ مسلمين(يعني د مسلمانانو د قبرونو) زيارت سنت او د مزاراتِ اولياءِ كرام او شهدائے عظام د حاضريدو ډير سعادت او هغوئي ته ايصالِ ثواب خوښ عمل دے۔ ❁مزارشريف يا د قَبْر زيارت د پاره د تللو په وخت په لار کښې فضول خبرې مه کوئ۔ ❁ قَبْر ته تعظيمي سجده حرامه ده او که د عبادت په نِيّت وي نو کفر دے ❁ هديره کښې په هغه عامه لاره باندې ځيئ، چرته چې په تير وخت کښې کله هم د مسلمانانو قبرونه نه وو، کومه لاره چې نوې جوړه شوې وي په هغې باندې مه ځيئ. **فتاوٰی شامي** کښې دي: (هديره کښې د قبرونو ورانولو سره چې) کومه نوې لاره جوړه کړے شوې وي په هغې باندې تلل حرام دي ❁ بلکه که د نوې لارې صرف ګمان (يعني شک) وي بيا هم په هغې باندې تلل ناجائزه او ګناه ده ❁ د ډيرو اوليائے

1...مشکوٰة، کتابُ:الْاِيمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

2...ابن ماجه، کتاب الجنائز، باب ماجاء في زيارة القبور، صفحه:252، حديث:1571۔

3...شُعَبُ الايمان، جلد:6، صفحه:201، حديث:7901۔

کرامو په مزارانو باندې ليدلے شوي دي چې د زيارت کوونکو د سهولت د پاره د مسلمانانو قبرونه وران کړے شي او فرش جوړولے شي، په داسې فرش باندې سملاستل، ګرځيدل، اودريدل، تِلاوت او ذِکر او اَذکار د پاره کښيناستل وغيره حرام دي، چرته چې داسې حالات وي هلته د لرې نه فاتحه اولولئ ❁ د قَبْر د پاسه ګرباتئ نه دي لګول پکار په دې کښې بے ادبي او بد فالي ده، که چرې (حاضرينو ته) د خوشبو (ورکولو) د پاره (لګول وي نو) که قَبْر سره خالي ځائ وي نو هلته ئې اولګوئ چې خوشبو خوررول خوښ عمل دے ❁ د قبرونو زيارت کولو د پاره دا 4 ورځې غوره دي: پير (ګل)، زيارت (پنجشنبه)جمعه او خالي. د جمعې په ورځ د سحر لمونځ نه پس زيارتِ قبور غوره کار دي. (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبۃ المدينه **بهارِ شريعت** جلد: 3، حصه: 16، او شيخ طريقت، اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اولولئ، د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سُنتو ډک سفر هم دے۔

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو |
| ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1...550سنتیں اور آداب، صفحه:87تا90ملتقطاً۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه

---

1... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵